# پاکستان افغانستان تعلقات

## په پاکستانی تناظرکښي

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرنسی

پلڈاٹ ایک ملکی، خودمختار، غیر جانبدار اور بلامنافع بنیادوں پر کام کرنے والا تحقیقی اور تربیتی ادارہ ہے جس کا مقصد پاکستان میں جمہوریت اور جمہوری اداروں کا استحکام ہے۔

پلڈاٹ، پاکستان کے ایکٹ برائے اندراجِ تنظیم 1860 کے تحت، ایک بلامنافع کام کرنے والے ادارے کے طور پر اندراج شدہ ہے۔

کاپی رائٹ پاکستان انسٹیٹیوٹ آف لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ اینڈ ٹرانسپرنسی ۔پلڈاٹ

جملہ حقوق محفوظ ہیں

پاکستان میں طباعت کردہ
اشاعت:۔ مارچ 2011

آئی ایس بی این 978-969-558-201-7

اس اشاعت کا کوئی بھی حصہ، پلڈاٹ کے واضح حوالے کے ساتھ، استعمال کیا جاسکتا ہے۔

ناشر

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

ہیڈ آفس: نمبر 7، 9th ایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان
ٹیلیفون: 345-123-111 (51-92+) فیکس: 3078-226 (51-92+)
E-mail: info@pildt.org; Web: www.pildat.org

# فهرست

محففات
سرلیک
د لیکوال په حقله
پیژندنه 09
د اړیکو تاریخه 09
تجارتی اړیکې 10
میلمانه مهاجر 10
سفری اړیکی / د تګ راتګ وفقیت 11
مینځی ایسا ته لاره 11
دهشت ګردی 12
ګاټیزې اړیکې 12
د منشیاتو مخ نوې 13
د اوبو د زخیرو لانجی 13
افغان مهاجر 13
د پارلمان کردار 15
نشریاتی اداریږ / میډیا 15
محاصل 16

## محففات

| | |
|---|---|
| APTTA | افغانستان پاکستان تجارتی معاهده |
| FATA | وفاقی انتظامی قبایلی علاقی |
| GDP | گراس ډومسټک پروډکشن |
| ECO | د اقتصادی تعاون تنظیم |
| IDPs | په داخلی توگه بې کوره خلق |
| ISI | داخلی سروس انټلیجنس |
| OIC | د اسلامی ملکونو نظم |
| MPs | د پارلمان غړی |
| NWFP | شمالی مغربی سر حدی صوبه |
| PTV | پاکستان ټیلی وژن |
| PoR | د اندراج ثبوت |
| SAARC | د علاقائی تعاون دپاره جنوبی ایشیائی تنظیم |
| UNHCR | د مهاجرینو د متحده قامونو کمیشن |
| UNODC | د منشیاتو او جرمونو په بابله د متحده قامونو دفتر |

## سرليک

د افغانستان او پاکستان تعلقات د پاکستانی تناظر په بنياد دا مقاله رحيم الله يو سفزۍ وليکله څوک چې دی نيوز پښور بيورو ايګزيکټو ډايريکټر ( انتظامی مشر) دې او به امنيتی لانجو يو ښه ليکوال، افغانستان او پاکستان په تعلقاتو خپل فکر وړاندې کونکې او د دواړو ګاونډی اسلامی ملکونو تر مينځه په تعلقاتو اثر لرونکو لانجو باندې تجزيه کونکې دې په دې مقاله کښې ځنی شخړې اوّ لانجې لکه دهشت ګردی، د منشياتو مخ نيوی، اوبو، د خبرو لانجې، نشرياتی ادارې او افغان مهاجر وغيره چيرلې شويدی او د پاکستان ا افغانستان تر مينځه د تعلقاته په ښه والی کښې د پرمختګ په حواله هم خيال څرګند شوې دې

دا مقاله په خاص توګه pildat تيار کری ده چې د پاکستان او افغانستان د پارليمانی غړو خبری اترو له د پس منظر په توګه کار ورکړی

د برټش هائی کميشن اسلام اباد درې مقالې اشاعت دپاره د مرستې مننه کوی

جاج، رائې، نيتجی او پريکړی چې په دې مقاله کښې اظهار شوې دې

## اعتراف / مننه

هغه دا PILDAT ياد برټش هائی کميشن اسلام اباد د فکر عکاسی نه کوی بلکې د ليکوال خپل خيالات

اسلام آباد

مارچ 2011



## د لیکوال په حقله

**رحیم الله یوسفزۍ یو ډیر لوړ پاکستانی خبریال او سیاسی او امنیتی تجزیه کار دۍ په روان وخت کښې هغه په امروزه اخبار دي نیوز پښور کښې د ریزیډنټ ایډیټر په توګه کار کوی هغه د کال 1980 نه په افغانستان، د پاکستان په خیبر پختون خوا، فاټا او بلوچستان خپلې تجزیي او ربورټونه وړاندي کوي، هغه د BBC سره د نمائنده په توګه هم کار کوي. د دي نه علاوه د اې بي سي ABCنیوز، ګلف نیوز، نیوز لائن او نورو مطبوعاتو کښې هم په مشغله توګه خپله برخه اچوي**

## پېژندنه:

د افغانستان او پاکستان پارلماني جوړجاړي بحثونه په داسې وخت کې ترسره کيږي چې د دواړو هېوادونو دولتونه هڅې کوي چې يو داسې پرېکړې ته لاره هواره کړي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوادګرۍ هوکړه پلې کړي ترڅو په وچه کې د راګېر افغانستان اړتياوې لېرې کړي.

که څه هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګرۍ هوکړه چې په ۲۰۱۱ زېږديز کال د فروری په مياشت کې لاسليک شوې وه، تر اوسه په عملي بڼه نه ده څرګنده شوې، خو ډېر ژر به عملي جامه واغوندي. او بې له شکه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کله ناکله ناسمو اړيکو په ترڅ کې يو مثبت ګام بلل کيږي.

دا هوکړه د مياشتو مياشتو خپل منځي خبرو اترو څخه وروسته د امريکا د متحده ايالاتو په ملاتړ ترسره شوه، او د دې ښکارندوي کوي چې په دواړو اسلامي ګاونډيو هېوادونو کې د دې خبرې وړتيا شته چې خپل منځي شخړې سره په ګډه له منځه يوسي. دافغانستان او پاکستان ترمنځ د سوادګرۍ هوکړه په ۱۹۶۵ زېږديز کال کې لاسليک شوه. او اوس په دې هوکړه ليک کې د دواړو دولتونو او د هغوئ سوداګرانو په غوښتنه د دې خبرې اړتيا محسوسه شوه چې ورباندې د څلورو لسيزو وروسته له سره کتنه وشي. لکه څرنګه چې د پاکستان او هند ترمنځ د اوبو هوکړي د دواړو دولتونو ته خورا ګټه رسولې ده، سربيره پردې چې ډېرې خپل منځي شخړې هم لري. په همدې ډول د افغانستان او پاکستان ترمنځ دغه ګډه هوکړه د دواړو دولتونو ترمنځ د خپل منځي ملګرتيا يو نوی احساس له سره را ژوندی کوي.

که څه هم د دواړو دولتونو ترمنځ د اړيکو پياوړتيا خورا پخوانی ده. خو ولې ځينو کشالو د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې تر دې دمه رسولي چې دولتونه او عام وګړي يې دواړه ښکار شوي دي. لېکن د يو څه مودې راپديخوا څه بدلونونه ليدل کيږي.

دا کار به له ډېر احتياط سره تر سره شي تر څو د دواړو هېوادونو په منځ کې منځ ته راغلې شخړې له پامه وغورځول شي او په دواړو دولتونو فشار وغورځول شي تر څو زړه راښکونکې جوړجاړي ته لار هواره شي.

## د اړيکو تاريخه

افغانستان او د پخواني هند ترمنځ له پخوا څخه ډېرې لرغوني اړيکې موجودې وې. کله چې برطانوي هند په ۱۹۴۷ زېږديز کال ووېشل شو نو د پاکستان اسلامي او خپلواک هېواد د افغانستان اسلامي جمهوريت ګاونډی هېواد وپېژندل شو، جغرافيايي جوړښت او سرنوشت دواړه، پخوانی افغانستان او نوی پاکستان سره ګاونډيان کړل. لکه څرنګه چې وايي: دوستان بدليږي خو ګاونډيان نه، د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو سربيره په آزاده توګه تګ را تګ د دواړو هيوادونو ترمنځ د نه شلېدونکي ملګرتيا يو ښکاره شاهد دی کوم چې په ۲۵۶۰ کيلومتره اوږده ډيورنډ پوله ترسره کيږي. د افغان ولسمشر حامدکرزي هغه يادګاري وينا چې يې پکې دواړه هېوادونه د دوه غبرګوني وروڼه ونومول او وېويل چې: دواړه نه جلاکېدونکي دي او بايد يو ځای و اوسيږي.

د جغرافيايي مشترکاتو سربيره، د افغانستان او پاکستان مذهب، تاريخ، کلتور او ځيني نسلونه او ژبې هم له يو بل سره کډې دي.

دا مشترکات او ځانګړني کله ناکله د سختو حالاتو سره هم مخامخ شوي خو بيا هم د دواړو

دولتونو له لارې داسې اداره شوې چې هيڅ کله هم د سياسي، ډيپلوماټي او يا د سوادګرۍ د اړيکو د خرابېدو لاملونه نه دي ګرځيدلي.

ډير پاکستاني وګړي دا خبره هيڅکله هم نشي هيرولای چې افغانستان د نړۍ يوازينی هېواد وو چې د پاکستان د آزاديدو نه وروسته يې په ملګرو ملتونو کې د نوموړي هېواد (پاکستان) غړيتوب رد کړ. ليکن دا هم يو روښانه حقيقت دی چې د هند او پاکستان ترمنځ د شوو دريو جګړو په لړ کې، افغانستان چې د هند پخوانی ملګری هم وو، بې طرفه پاتې شو. او بل حقيقت دا چې کله چې په ۱۹۶۵ زيږديز کال کې هند او پاکستان يو بل ته په غصه شول. افغانستان خپل ګاونډی هېواد پاکستان ته د هغه د لويديځې پولې څخه ډاډ او اطمينان ورکړ.

## تجارتی اړیکې

د شميرنې له مخې کيدای شي د افغانستان او پاکستان نه ختميدونکې او ژورې طبعي اړيکې د قلم له خولې و نه ليکل شي، خو يو څو ټکي شته چې د دواړو هېوادونو د اړيکو د روښانه کولو لپاره له ګټې ډکې او څرګنده ثابتې شي.

۱. لمړی دا چې پاکستان هڅه کوي تر څو ځان د افغانستان لوی سوادګر ملګری ثابت کړي.

۲. له همدې کبله ده چې افغانستان د امريکا او چين نه وروسته د پاکستاني مالونو د صادرولو لوی او ستر مارکېټ دی.

۳. د ۲۰۱۰ اقتصادي کال له مخې افغانستان ته د پاکستاني مالونو د صادرولو کچه ۲.۱ بليونه امريکايي ډالرو ته ورسېده.

۴. د ۲۰۱۱ اقتصادي کال لپاره پاکستان هيله لري چې دغه کچه ۷.۱ بيلونه امريکايي ډالرو ته لوړه کړي کوم چې د ۲۰۱۰ کال د جولای د مياشتې نه تر ۲۰۱۱ کال د جنوری مياشتې پورې نږدې ۸۷۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېدلي وه چې ټاکل شوې موخې ته يو ښه پرمختګ بلل کيږي.

۵. په ۲۰۰۱ زيږديز کال کې کله چې طالبان په افغانستان کې واکمن وو دغه کچه فقط ۲۶ ميليونه امريکايي ډالره وه، چې د اوس پرتله ډېره ښکته ده.

د افغانستان د نورو ګاونډيو هېوادونو پرتله پاکستان افغانستان ته د مالونو په صادرولو کې لمړی هېواد دی. د همدې شمېرنې له مخې ايران افغانستان ته د ۶۰۰ ميليونه امريکايي ډالرو د صادراتو له امله دوهم هېواد بلل کيږي.

د پاکستاني مالونو سره د بلدتيا لرلو او د نږدې ګاونډيتوب له امله پاکستان د افغانستان په بازارونو کې يو ښه او ستر سيال دی. او په ځانګړي ډول د مهاجرت له امله افغان وګړي د پاکستان له سوادګريزو مالونو سره ښه بلدتيا لري.

که چېرې د هغو توکو چې په قاچاقي توګه له پاکستان نه افغانستان ته وړل کيږي وشميرل شي نو د پاکستان د کلنيزو صادراتو کچه به ۴ بيليونو امريکايي ډالرو ته ورسيږي. د دواړو هېوادونو هغه هڅې چې د قاچاقو د مخنيوي په لار کې يې ترسره کوي، کولای شي د دواړو هېوادونو عايداتو ته پوره ګټه ورسوي.

## میلمانه مهاجر

د سويټ يونين يا د روسيې د متحده جمهوريتونو د جګړې پر مهال پاکستان د ۵ ميليونه افغان کډوالو کوربه هېواد وو. په دغه مهال د کډوالۍ بېلابېلو اغيزو او نفوذونو د پاکستان په خاوره کې تګ او راتګ کاوه. اوس مهال په پاکستان کې ۷.۱ ميليونه ثبت شوي افغان کډوال او ۱

میلیون غیرثبت شوي افغانان ژوند کوي. افغان کډوالو په خپل دغه تېر وخت د هر ډول فکري او هنري خپلواکۍ خوند اخیستی او د پاکستان په ځلورو ولایتونو او پلازمینې او هم په آزاد کشمیر کې خپل ژوند تر سره کړی. چې تر اوسه پورې د نړۍ یو ښه مثال دی، چې په دغه کچه کډوال په یو میلمه هېواد کې د سولې او خوشحالۍ په فضاء کې اوسیدلي دي. پخوا او اوس هم د یو ښه نیت او د پاکستان د خلکو د اخلاص او صبر ښکارندوي کوي، چې افغاني کډوالو ته یې په پاکستان په ځانګړې ډول خیبرپښتونخوا، بلوچستان او قبایلي سیمو کې چېرته چې په ډېره کمه کچه طبعي وسایل او ډېر کم عامه خدمتونو ته لاس رسی لري، ځای ورکړی. په یو لړ هغو کمپونو کې چې پخوا پکې افغان کډوال اوسېدل اوس مهال هغه پاکستاني بې ځایه شوې کورنې چې د خیبرپښتونخوا او قبایلي سیمو د شخړو له امله د خپلو کورونو پریخودلو ته اړ شوي دي، ژوند کوي.

## سفری اړیکی / د تګ راتګ وفقیت

که څه هم د افغانستان او پاکستان اړیکې خورا پیاوړې دي خو یو څو ژوندي مثالونه یې په لاندې ډول دي:

۱. ۵۰۰۰۰ افغانان هر ورځ د تورخم او چمن له لارې پاکستان ته بې له قانوني اسنادو سفر کوي.

۲. له دې سربېره په کابل کې د پاکستان سفارت او د سفارت قونصلګرۍ چې د جلال آباد، هرات، مزارشریف او قندهار په ښارونو کې پرتې دي هره ورځ ۱۲۰۰ څو سفري ویزې افغانانو ته ورکوي چې په بل هیڅ هېواد کې په دغه اندازه د افغانانو تګ راتګ پرته له قانوني اسنادو نه تر سترګو کیږي.

او دغه تګ راتګ یو طرفه نه بلکه ډېر پاکستاني قبایلي وګړي چې پولو ته نږدې ژوند کوي د دې جوګه دي چې په آسانی سره پرته له قانوني اسنادو د پولې هاخوا افغانستان ته ولاړ شي. اوس مهال د ۷۰۰۰۰ په شاوخوا کې پاکستاني وګړي چې ښه معاشونه ترلاسه کوي په افغانستان کې د بیارغونې په پروژو کې کار کوي. دا لمړی ځل دی چې د کوچنی وچې (برصغیر) خلک او په ځانګړې ډول پاکستاني وګړي په افغانستان کې په دغه کچه په روزګار کولو بوخت دي.

## منځنۍ آسیا ته لار:

دا چې حالات بدل شوي دا بدلونونه هم رامنځ ته شوي چې پاکستان په حقیقت کې د افغانستان په خاوره کې ځمکنۍ لارې ته له دې امله اړتیا لري چې خپل سوداګریز مالونه د منځنۍ آسیا هېوادونو ته ورسوي.څرنګه چې په وچه کې راګیر افغانستان اړین وو او دی چې د پاکستان د ځمکنۍ لارې نه په ګټه اخېستلو سره د کراچۍ بندر او د عرب سمندرګي ته خپل سوداګریز مالونه ورسوي تر څو هند او نورو هېوادونو ته لاس رسی ومومي. خو پاکستان هم اړین دی ترڅو د افغانستان د ځمکنۍ لارې څخه د منځنۍ آسیا هېوادونو ته خپل سوداګریز توکي انتقال کړي.

## د منشیاتو مخ نیوې:

د افغانستان او پاکستان حکومتونه په دې سلا شوي دي چې د منشیاتو د مخ نیوي د پاره به شریك عملیات کوي. دواړه حکومتونه او د دوئې د منشیاتو د مخ نیوی واکمنو داسې حده پورې ګامونه پورته نه کړل چې په حقیقی معنو کښې مرسته وشی. په لاندې او وزارتی سطح غونډې وشوې. او دجرمونو او منشیاتو په حواله د متحده قامونو د دفتر UNODC په ملګرتیا سره فیصلې وکړې شوې. خو دې ته له عملی جامه ورکړې شوې نه ده. اے . ۱۲ دولس نقاتی اعلان نامه هم په ۲۰۱۰ کښې د دواړو ملکونو تر مینځه په دغه وزارتی سطح غونډو کښې جاري شوه. چې دا شان په خپلو کښې مرسته ملګرتیا زیاته کړی او د منشیاتو د سوداګرو د نیولو او مخ نیوی د پاره په ښه توګه عملیات وکړی. هغه وخت اهل کارو دا هیله لرله چې هر دوه میاشتې به د شریك عملیاتو انقاد کولے شی. خو دا عمل لا تر اوسه د شورو په مرحله کښې دے.

افغانستان او پاکستان د مخکښې نه ایران سره د منشیاتو سوداګرۍ کولو او مخ نیوی په بابله د تلافۍ د پاره ځان ځانله عملیات کوی. په حقیقت کسې افغانستان د منشیاتو په معامله کښې یو لوئې محور ګڼلے شی. ځکه چې دلته د نړې والې شرحې په حساب ۹۰ فیصده نه زیات افیون پیدا کیږی. د دې نه هیروئن جوړیږی او په ګڼ مقدار دا قسمه منشیات د ایران او پاکستان په واسطه په غیر قانونی توګه بهر لیږلے شی.

د یو اندازې مطابق د افغانستان د منشیاتو صنعت تقریباً د ۳۰ بلینه ډالرو د قیمت ګڼلے شی. او دا ویلی شی که چرې مناسب قدمونه پورته نه کړے شو نو دا جنګ لوټلے هیواد به یو منشیاتی ریاست جوړ شی.

منشیات او جرمونه نه صرف ریاستی کنټرول کمزورې کوی بلکه دا د منشیاتو د سوداګرو، طالبان، دهشت ګردو او نورو مجرمانه ډلو تر مینځه تعلقات هم مخ په وړاندې بوځي. او مضبوطوی. چې هغه د افغانستان او د نورو ګاونډ هیوادونو د مظبوطیا د پاره خطرناك ثابتیږی. د افغانستان افیوم د پاکستان سره تیریږی او دغه شان مقامی مارکیټونو او نور ملکونو ته خوریږی. د پاکستان په ډیرې خوارۍ نه پس د خشخاشو کرونده بنده کړې شوې ده. خو د دې مقابله کښې د متبادلو وسائلو نه ورکولو له وجې ډیرې کشالے راولاړے شوې دي. خاص کر د خیبر پختونخوا، بلوچستان او فاټا په سرحدی علاقو کښې.

په موجوده وخت کښې د خشخاشو د ولاړ فصل د ختمولو د پاره مهمونه پیل کړے شوې دي. او د څه مزاحمت نه بغیر ډیره کامیابی په لاس راغلے ده. بیا هم دا حقیقت په خپل ځائې چې د افغانستان افیوم او هیروئن د پاکستان د پاره یوه لویه کشاله ده.

مشیات د افغانستان او د دې ګاونډې ملکونو په امنیت براه راست لوئې اثر لري۔ ځکه چې د افیومو او د هیروینو تجارت د ریاست د مخالفو ډلو د امدن لویه ذریعه ده۔

## د اوبو د ذخیرو لانجې:

په موجوده وخت کښې دپاکستان او افغانستان تر مینځه د اوبو په حقله حیڅ قسمه معاهده وجود نه لري۔ عن تر دې چې خپلو کښې د کابل سیند اوبۀ شریکوي۔
د کابل سیند د افغانستان نه د پاکستان په لور بهیږی او د خیر اباد او اټك سره نزدې اباسین سره د ملاویدو نه وړاندې د پیښور علاقې د زمکو اوبه خور کوي۔
د کابل سیند اوبو د شریك استعمال په بابله پاکستان ته مسئله راپیښیدے شی۔ که چرته افغانستان کښې حالات ښه شی او امنیت د قیام نه پس د کابل په سیند د اوبه خور او د برقی پیداوار د پاره ډیمونه جوړ شی۔ ځنې پاکستاني تجزیه کار د واړو ګاونډی ملکونو تر مینځه د اوبو د نشت والی معاهده د پاکستان د پاره د نقصان باعث ګنی۔
د اسلام اباد او کابل دواړو فائده په دې کښې ده چې په دې لانجه باندې د لاسه د وتو نه مخکښې زر تر زره پام وګرځوي۔ چې دغه شان د پاکستان په کابل سیند باندې خپل تاریخی حق محفوظ پاتې شی۔ او افغانستان هم د کابل سیند د اوبو نه ګټه پورته کړي۔ د کابل سیند د اوبو معاهدې د پاره دواړو حکومتونو له زر تر زره خپلو کښې خبرې اترې شروع کول پکار دی۔
زیاته مهمه دا ده چې د انډیا عنصر د مینځه وویستلے شی۔ ځکه چې د انډیا په کشمیر وادی کښې په اباسین سیند د ډیمونو جوړولو له کبله پاکستان سره شخړه روانه ده۔ او هغوی افغانستان مائل کوی او کومك ورسره هم کوي۔ چې په کابل سیند باندې د برقی پیداوار د پاره ډیم جوړ کړی۔ او دا قسمه منصوبې پاکستان ته د کابل سیند اوبو راتګ متاثر کولے شی۔ پکار ده چې د متحده قامونو نه په دې معامله کښې کومك تر لاسه کړے شی۔ او دا یقینی کړے شی چې د کابل سیند اوبه د دواړو هیوادونو په فائده کښې راوستلے شی۔

## افغانی مهاجر

پاکستان کښې تقریباً یو اعشاریه اووه افغانان اباد دي۔ ددوئی زیات تر په خیبر پختونخوا اؤ بلوچستان ولایتونو کښې استوګنه کوي۔ په پنجاب، سنده او د پاکستان په پایه تخت اسلام اباد کښې هم افغانیان اوسي۔ تر اوسه ډیر افغانان مهاجر د فاټا او افغانستان په سرحدونو اباد موندې شی۔ عن تر دې چې دغلته ددوی کیمپونه د راوروستو کالونو راسې بند کړے شوي دی۔ د امن په خاطر او ورسره

ورسره له دې امله چې دغلته ته افغان طالبان او د دوی مرستیال پناه ونه مومی۔ ددخیبر ایجنسي د لنډی کوتل د خواوشا ځایونو نه په زور لرې کړې شوي وو۔ څلور لوئې لوئې د افغان مهاجرینو کیمپونه یعنی کچه ګړی، او جلوزی، په خیبر پختونخوا کښې رو جنګل پیر او ګړدجنګل په بلوچستان کښې په نژدې تیرو کلونو کښې بند کړې شوي دی۔ دې کیمپونو کښې میشته افغان مهاجر څه افغانستان ته بیرته لاړل او څه د پاکستان په نورو کیمپونو یا ښارونو او کلو کښې اباد شو۔ له دې کبله څه افغانیان ګیله مند هم وو۔ چې د پاکستان حکومت دوی، د کیمپونو نه بهر وباسی چې دغه شان دوی، افغانستان ته په تګ مجبوره شی۔ اوس هم د افغان په ګڼ شمیر سره د کیمپونو نه بهر پاتې کیږی۔ دتیرو جائزو په رڼا کښې په ګڼ شمیر کښې افغان مهاجرین پښتانه دي۔ چې قریباً اتیا فیصده دي۔ درج شوي افغان مهاجر په قانونی توګه د تیرو دیرشو کالو راسې په پاکستان کښې د ژوند شپې ورځې تیروي۔ چې نادرج شوي افغان مهاجر چې سهی شمیر ئې معلوم نه دے۔ قریباً یو ملین دي چې په پاکستان غیر قانونی استوګنه کوی خو بیا هم ددوئی د نیولو او بیرته لیږلو د پاره څه عملی قدمونه اخیستي شوي نه دي۔

د افغانیانو د پاکستان په راتګ، د خپلې خوښې په کیمپ کښې د استوګنه کولو، یا بهر په ښارونو، قصبو، کلو کښې د اوسیدو، په ټول هیواد کښې د ګرځیدنې، د تجارت کولو، او د کارروزګار موندولو په بابله تل پاکستان افغانیانو سره ښه او نرم سلوك کړے دے۔ افغانیانو سره د پاکستان سلوك ډیر ستایلے کیږي۔ هر کله چې ددې موازنه د ایران او نورو هیوادونو سره وکړے شی۔

په کال ۲۰۰۷ کښې پاکستان حکومت اوUNHCR په شریکه چې کومه مردم شماري او ثبتونه وکړه۔ د هغې نه پس افغانی مهاجر ددې جوګه شو۔ چې د ثبتونې(اندراج) کارډونه تر لاسه کړی چې دغه شان دددوئی، پاتې کیدنه قانونی وګرځي۔

افغان شخړې په راوروستو کالونو کښې ډیر خطرناك شکل اختیار کړے دے۔ له دې کبله هم د افغان مهاجرینو پاکستان کښې قیام اوږدیږی۔ او دددوی په بیا ودانی، او بیا ابادی، په هلوځلو کښې خنډان جوړیږی۔

د کال ۲۰۰۲ راسې UNHCR د ٦.۴ ملینه افغان مهاجرینو چې ٦.۳ ملینه د پاکستان نه او قریباً یو ملین د ایران
نه پکښې شامل دي۔ افغانستان ته د بیرته تګ د پاره تابیا کړې ده۔ په خپله خوښه د افغان مهاجرینو د پاکستان نه بیرته
تګ به په مارچ ۲۰۱۱ کښې په دوؤ مرکزونو پیښور او کوئټه کښې شروع کیږي۔ او هم د دې کال تر اکتوبره به جاري وي۔ څنې بهرته تلونکی خاندانونه به یقیناً دلته یعنی پاکستان کښې پاتې شی ولې چې د افغانستان په ډیرو

برخو کښې امنیټ نشته۔ او بله دا چې ډیر افغان مهاجرین په پاکستان کښې د ډیرې مودې د قیام له وجې ښه او څوکاله ژوند تیروي۔ څه ځوانان مهاجرین چې په پاکستان کښې زیږیدلي دی او هغوی په پاکستان کښې د افغانستان نه زیات خوشحاله دي۔

د جولائی او اګست ۲۰۱۰ په میاشتو کښې په پاکستان کښې د راتلونکی خونړي سیلاب په افغان مهاجرینو هم ډیر غټ اثر وغورځوو۔ په ګڼ شمیر کښې دافغانیانو کیمپونه او کلی په خیبر پختونخوا کښې غرق شو۔ د UNHCR د وینا مطابق د افغان مهاجرینو په کلو کښې د دولسو زرو (۱۲۰۰۰) نه زیات کورونه تباه شو۔ چې د هغې د لاسه اویا زره (۷۰۰۰۰) خلق بې کوره شو۔ د نوښار ضلعې د افغان مهاجرینو په ازاخیل کیمپ کښې درې ویشت زره (۲۳۰۰۰) خاندانونه بې کوره شو۔ ډیرو بې کوره افغانیانو افغانستان ته په بیرته تګ ترجیح ورکړه۔ د ترهر ګرۍ او عسکري عملیاتو له کبله په راوروستو کالو کښې کیمپونه خالی کړل اؤ اوس د پاکستان د قبایلی علاقو ملاکنډ علاقې او نورو ضلعو نه رالړولی شوي مهاجرو له په مختلفو ځایونو کښې استوګنې ورکولے شی۔

د پاکستان افغانستان او د UNHCR تر مئینځه په مارچ ۲۰۰۹ کښې د لاس لیك شوې معاهدې تر مخه به د کال ۲۰۱۲ تر اخره پورې په پاکستان کښې قیام کولے شي۔ د پاکستان نه د افغان مهاجرینو په خپله رضا افغانستان ته بیرته تګ په موده کښې به اوردوالے د افغانستان د حالاتو مطابق ورکولے شي۔

## د پارلمان کردار

سره له دې چې د افغانستان او پاکستان د پارلمان د غړو ټګ راټګ هم شوے دې او په کابل، اسلام اباد او نورو ځایونو کښې په دوه اړخیزه او بین المللی غونډو کښې لیدۀ کاته هم کیږی خو بیا هم په حقیقت کښې داسې هلې ځلې شوی نه دي چې دې رابطو له دوام ورکړي۔ او دا شان دوئی په باقاعده ډول لیدۀ کاته کوی او خپل خیالونه شریکوی۔ د د پاکستان او افغانستان پارلمانونه ځانله ځانله مودې لري۔ د پارلمان ډیر غړی چې یو بل سره لیده کاته وکړی۔ او ښه راشه درشه جوړ کړی خو هغوئی د پارلمان ترزیاتې مودې غړي پاتې نه شی۔ په باقاعده ډول د پارلمان د غړو دا رابطې د روغ رمټ پاتې کیدو د پاره بنیادی تیاری یقینی کول پکار دي۔ دد دواړو هیوادونو میرمنو پارلمانی غړو د نزدې راوستو او یو ځائې کولو د پاره هم هلې ځلې شوې دي۔ دغه شان

## نشریاتی اداري / میډیا

د افغانستان او پاکستان د میډیا او خبریالو تر

مينځه د مرستې ملګرتيا پيدا کولو د پاره زړه پورې هلې ځلې کيږي. خو بيا هم ډير زيات پرمختګ په دې بابله ترلاسه شوې نه دے. په راوروستو مياشت کښې د هيوادونو د شخصی ميډيا تر مينځه د مرستې ملګرتيا د پيل کولو او طاقتور جوړولو د پاره په منظم ډول هلی ځلې شوی دي. او دا شان د ميډيا سره د تعلق لرونکو کسانو د راشه درشه او ------ د تربيت د پاره انتظام هم شوې دے. بين المللی تنظيمونو په دې بابله مهم کردار لوبولے دے.

دا هم فکر وړ خبره ده چې هيڅ يو پاکستانې خبريال په افغانستان کښې په مستقل بنيادونو ديره نه دے. دا هم حقيقت دے چې په دې هيواد کښې ټولې پيښې په پاکستان باندې ډير لوئې اثر لري. نه رياستی او نه شخصی ميډيا په کابل کښې د خبريالو په ساتلو باندې د خپلو وسائلو خرڅ کولو ته رضامند نه دي. په حقيقت کښې په تيرو وختونو کښې هم دغه حال وو. او پاکستانی ميډيا تل په افغانستان کښې د کيدونکو پيښو د عکاسی او خبرونو د پاره د مغربي خبرونو ايجنسو او خبريالو باندې هيله کوي. دا هم ده چې د افغانستان د پاکستان په تناظر کښې خبر ورکړے شی. او دغه شان د پاکستان د افغانستان په تناظر کښې جائزه واخستے شی. او ددې د پاره افغان او پاکستانی خبريالان په دواړو هيوادونو کښې وټاکلے شی.

په دې بابله افغانيان ښه دي. ولې چې افغان خبريالان ځوك چې په پاکستان کښې اوسيدلي دي او مطالعې ئې کړي دي. اوس هغوی ځنې افغاني ټی وی چنلونو له په پاکستان کښې کيدونکی پيښې د افغانستان په تناظر کښې وړاندې کوی.

په تير وخت کښې په پاکستان کښې افغان ټی وی چينلونه وو چې په پښتو او دری (افغانی فارسی) کښې به ئې خپرونې کولې. خو دا د پمرا PEMRA د لايسنس د نشتوالي له کبله بند کړے شو. د دواړو هيوادونو ټی وی چينلونو له په ځائې ددې چې ددوئی په خپرونو کښې خنډان پيدا کړے شی. اسانی ورکول پکار دي ځکه چې دا د افغان او پاکستان اولس د ښه او غوره ترون د پاره يو ذريعه ده.

## محاصل

د پاکستان او افغانستان تر مينځه د تعلقاتو په بابله ډير غورئيز پرمختګ مخ ته راغلے دے.

ښکته ورکړے شوې هغه ګامونه دي چې مقصد ئې تعلقات مضبوطول، او د مخکښې مرستې ملګرتيا د پاره مرحلې ترتيب کول دي.

١ - افغان پاکستان ټرانزټ ټريد ايګريمنټ (تجارتی لوظنامه) په اکتوبر ٢٠١٠ کښې د پاکستان د تجارت وزير مخدوم امين فهيم او د افغانستان انور الحق احدی لاس ليك کړه. دا په هغه وختينی

لوظنامه کښې پرمختګ وو چې په کال ۱۹۶۵ کښې لاس لیک شوې وه کومه چې افغانستان بهرنۍ نړۍ سره تړی او پاکستان ته د مرکزی ایشیا ریاستونو سره د تجارتی تړون اسانۍ ورکوی۔

۲۔ پاکستان او افغانستان د پوهنې یو یاداشت MOU دددواړو هیوادونو تر مینځه د ریل رابطې جوړولو د پاره په جولائی ۲۰۱۰ لاس لیک کړے شو۔

۳۔ افغانی او پاکستانی سوداګرو په نومبر ۲۰۱۰ کښې د سوداګرۍ شریك چیمبر (غونډه) جوړ کړو۔

۴۔ پاکستان افغانستان له د بیا ودانۍ او تعلیم، صحت ، مواصلاتو او نورو میداونو کښې د پرمختګ د پروژو د پاره قریباً ۳۳۰ ملینه امریکنی ډالرې ورکړې۔ چې په هغو جناح هسپتال کابل، سر سید پوسټ ګریجویټ د سائنسی فیکلټی (څانګه)،ننګرهار پوهنتون جلال اباد، لیاقت علی خان انجنیرنګ فیکلټی، بلخ پوهنتون تورخم او جلال اباد سړك او رحمان بابا هائی سکول کابل څه مهمې پروژې پکښې شاملې دي۔

۵۔ پاکستان په افغانستان کښې د مینجمنټ اداره بزنس ایډمنسټریشن او فیکلټی ټرینګ ادارې په قیام لګیا دي۔

٦۔ پاکستان افغانستان ته د استعداد کار زیاتولو د نوؤ ادارو جوړولو او د موجوده ادارو د اوچتولو د پاره د تعاون پیشکش کړے دے۔

۷۔ پاکستان او افغانستان خوراکی بانك په جوړولو غور کوی۔ او د ذراعت په میدان کښې او د فصلونو د متبادل پروګرامونو په حواله شریکې څیړنې پیل کوی۔

۸۔ دواړو ملکونو په ماحولیاتی کشالو خبرې اترې شروع کړې دی۔ چې دا شان د آب وهوا د بدلون اثر کم کړے شی۔

۹۔ د پاکستان حکومت په پاکستانی تعلیمی ادارو کښې د افغان طالبعلمانو ته د وظیفو پیشکش کړے دے۔

۱۰۔ د دواړو هیوادونو د وګړو تر مینځ د تعلقاتو مضبوطولو د پاره بنه ګامونه پورته کړے شوی دي۔ اود افغانستان او پاکستانی پارلمانی غړو، سوداګرو، شاعرانو، لیکوالو، عالمانو او خبریالو وفدونو (جرګو) دواړو هیوادونو ته دورې کړے دی۔

۱۱۔ پاکستان په امروزه بنیاد د ټولې نړۍ د هیوادونو په نسبت افغانیانو ته زیاتې ویزې جاری کوی او د هغه

افغانیانو د ویزو د پاره رقم (پیسې) نه اخلي- اوسطاً پاکستان هره ورځ دولس سوه ویزې (د کثیر المقاصدی داخلیت) افغانیانو ته جاری کوی- دغه شان د پنځوسو زرو نه زیات افغانیان د څه قسمه سفري دستاویزاتو نه بغیر هره ورځ پاکستان ته راپورې وځی-

۱۲۔ د یو اندازې مطابق د اویا زرو (۷۰۰۰۰) نه زیات هنرمند او غیر هنرمند پاکستانیان په موجوده وخت کښې په افغانستان کښې کار کوي- چې پکښې زیات تر د ابادۍ په مد کښې کار کوي- او دې سره سره بانکاران، چارټډ اکاونټان او د ائی ټی ماهران هم په کارونو لګیا دي-

۱۳۔ د سلك روټ د سی ای او فورم د قیام منصوبې په وجود کښې دي- چې دغه شان د پاکستان او افغانستان د عوامی او شخصی مدونو یو شوې ذریعې په شریکه د بیا ودانۍ او پرمختګ د سرګرمو د پاره پکار راوستې-

۱۵۔ د پاکستان او افغاني عسکرو او پولیس افسرانو تربیت بلنه هم افغاني حکومت ته وړاندې کړې ده- په دې بابله ډیر پرمختګ متوقع دے- که چیرې افغان حکومت دې بلنې ته هرکلے ووې-

۱۶۔ پاکستان ټیلی وژن او د افغانستان ارین ټی وی د یو معهدې تر مخه په خپل مینځ کښې همکاری کوی چې دا شان د دواړو هیوادونو تر مینځه ثقافتی تبادلې پرمختګ ومومي- او د برقی او چهاپی میډیا (الیکټرانك او پرنټ میډیا) په خپله کښې هم نزدې رابطې جوړې شی-

۱۷۔ د پاکستان د امن مطالعی ادارې PIPS او د افغانستان کلډ ګروپ د افغانستان او پاکستان د برقی او چهاپی میډیا تر مینځه د دوه اړخیزه تعاون د زیاتولو او خبریالو د ترتیب ورکولو د پاره رضامند شوي دی- بین المللی میډیا سپورټ IMS هم په دې بابله خپلې مرستې وړاندې کړې دی او د دې د پاره په ۲۲،۲۱ فروری ۲۰۱۱ باندې په کابل کښې ړومبنی قدمونه پورته کړې شو- د دې سرګرمو د نګرانۍ د پاره یو مشاورتی بورډ هم جوړ کړے شو په کوم کښې چې د دواړو هیوادونو نه اووه اووه غړي ګډون کوي-

د دواړو هیوادونو تر مینځه ډیر زیات د پرمختګ لارې چارې موجودې دي- که چرې دوی دغه شان یو بل سره مرسته ملګرتیا جاری ساتی- د افغانستان او پاکستان نزدې راوستو د پاره په هر مد کښې د پرمختګ د پاره

په لویه پیمانه توان صلاحیت شته۔ خو د ټولو نه لوئې رکاوټ د پاك افغان د سرحدونو دواړو اړخونو ته د امن نشتوالے دے۔

دا شخړه په افغانستان کښې پیل شوه او تر پاکستانه راخوره شوه۔

د دواړو هیوادونو د پاره دا غوره ده چې په شریکو هلو ځلو سره دا شخړه ختم کړي۔ او د امن د راوستو د پاره کار وکړي۔